**بسم الله الرحمن الرحيم**

# غزې حقيقتونه افشا کړل او له درواغو يې پرده پورته کړه

د ۲۰۲۳م کال د اکتوبر له ۷مې راهيسې ډېرې اوږدې او دردناکې اونۍ تېرې شوې؛ په دې وخت کې حقايق افشا شول او له درواغو پرده پورته شوه. د غزې د خلکو او په ټوله کې اسلامي امت او دغه راز د نړۍ ځينو سالم فکر واله او منصفو نامسلمانانو په اړه يې حقيقت په ډاګه کړ. د صهيونيستي ادارې، له دوی څخه د غربي قدرتونو د ملاتړ او د اسلامي خاورو د حکامو د همکارۍ واقعيتونه يې هم افشا کړل. له دغو افشا کولو او پردې پورته کولو سره يې اسلامي امت او پوځونو ته يو مسير وښود چې اوس بايد څه وشي.

**غزې د خپلو خلکو نېکي ټولو ته وښوده.** د غزې خلک له دومره زيانونو او سختيو سره سره صبر کوي. د يوه شديد تېري پر وړاندې سر پورته کوي. له سختو ابتلاوو شکايت نه کوي. د نورو د هوسا کولو لپاره موسکا کوي، خو پخپله دردمن دي. له سختو کمبوديو او لوږو سره سره، خواږه وېشي. د خپلو پرېمانه زيانونو د جبران لپاره دعا کوي. دوی په خپل ايمان نړۍ ولړزوله او هڅه کوي چې الله سبحانه و تعالی راضي کړي. بېشکه الله سبحانه و تعالی خپل عزيزان ابتلا کوي. رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايي:

**«إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ إِذَا أَحَبَّ قَوْمًا ابْتَلَاهُمْ فَمَنْ صَبَرَ فَلَهُ الصَّبْرُ وَمَنْ جَزِعَ فَلَهُ الْجَزَعُ»**

**ژباړه:** «الله سبحانه و تعالی ته چې کوم خلک ګران وي، هغه ابتلا کوي. نو څوک چې صبر وکړي، اجر يې ورکول کېږي او څوک چې بې تابي وکړي، د بې تابۍ سزا ورکول کېږي.»

**غزې د اسلامي امت نېکي وښوده.** مسلمانان د غزې د خلکو له درده بې کراره دي. هر څه يې چې له وسه وشي کوي يې. دومره دعا کوي چې لاسونه يې وچ شي. دومره صدقه ورکوي، چې کورونه يې خالي شي. له دښمن سره بايکاټ کوي او له دې سره د پام وړ زيانونه ور اړوي. د پولو د پرانيستلو غوښتنې کوي چې خپل بچيان د غزې د خلکو مرستې ته ور واستوي. په وار وار غواړي چې پوځونه يې بسيج شي. بې شکه چې مسلمانان واحد بدن دی او ايمان سره موټی کړي. پيغمبر صلي الله عليه وسلم فرمايي:

**«تَرَى الْمُؤْمِنِينَ فِي تَرَاحُمِهِمْ وَتَوَادِّهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ كَمَثَلِ الْجَسَدِ إِذَا اشْتَكَى عُضْوًا تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ جَسَدِهِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى»**

**ژباړه:** «مومنان يو له بل سره د ترحم او مينې او محبت له اړخه د يوه جسد په څېر دي، کله چې (د جسد) يو غړی ناروغ وي، نو ټول وجود ورسره په شپه په ويښه تېرولو او تبه کې شريک وي.»

**غزې د اسلام پر وړاندې د نړۍ د منصفو او سالم ذهن واله خلکو درناوی وښود.** ډېرو نامسلمانانو د غزې د خلکو پر وړاندې بې عدالتیو په غبرگون کې خپله غوسه وښوده. اوس یې ډېر د یهودیت او صهیونېستیت ترمنځ توپیر کوي. ډېری یې د غزې د مسلمانانو صبر ته گوته په غاښ دي. ځینې یې ښځېنه کوي چې د دغه صبر منبع چېرته ده. ځینې یې مسلمانان شول او اسلامي امت خپله غېږه ورته خلاصه کړه. دا مسلمانېدل په داسې حال کې کېږي چې لا د اسلام پلی کوونکی دولت نشته. نو که اسلام د یوه دولت له لوري پلی شي او ټول عظمت یې وښودل شي دا کچه به څومره لوړه شي!؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايیي:

«**إِنَّ اللَّهَ زَوَى لِيَ الأَرْضَ فَرَأَيْتُ مَشَارِقَهَا وَمَغَارِبَهَا وَإِنَّ أُمَّتِي سَيَبْلُغُ مُلْكُهَا مَا زُوِيَ لِي مِنْهَا**» [مسلم]

**ژباړه:** «الله سبحانه و تعالی ځمکه ما ته راغونډه کړه (راونغښتله) نو ما یې مشرقونه او مغربونه ټول ولیدل (د ځمکې ټولې برخې مې ولیدلې) او هغه څه چې ما ته راغونډ کړل شوي (ټوله ځمکه) به زما د امت ملکیت وگرځي.»

**غزې صهیونیستي اداره؛ د هغې وحشت، دښمني، کمزوري او ډارنتوب افشا کړ.** یهودي ادارې هر جنایت وکړ. ماشومان یې په سناپیرو وویشتل، روغتونونه یې بمبار کړل. ډېر وخت یې جنایتونه امریکا په کاذبو پلمو ورپټول؛ خو اوس له پلمې پرته او په ډاگه جنایت کوي. په ډېر وحشت ټول‌وژنه کوي چې له یوه هغه «اصل» یا «اخلاقو» او یا «انسانیت» سره نه جوړېږي، چې انسانانو په جگړو کې لیدلي. بې شکه چې د دوی په اړه د الله سبحانه و تعالی دغه قول صادق دی:

[**لَا يَرْقُبُونَ فِي مُؤْمِنٍ إِلًّا وَلَا ذِمَّةً ۚ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُعْتَدُونَ**] [توبه: ۱۰]

**ژباړه:** «د یو مؤمن په اړه، نه دوی د خپلولی لحاظ ساتي او نه د (پناه ورکولو) پر ژمنه پاتې کیږي. بېشکه چې همدا دوی تیري کونکي دي»

له دې سره سره، غزې د اشغالگرو ځواکونو کمزوري افشا کړه. ډارنو صهیونیستي ځواکونو له دومره پرېمانه او عصري وسلو سره سره بیا هم ونه شوی کولی چې د مجاهدینو کوچنۍ او ډېرو کمو وسلو لرونکې ډلې تر خپل کنټرول لاندې راولي. نو که د مسلمانانو له یوه پوځ سره مخ شي څه به کوي؟

**غزې غربي دولتونه افشا کړل چې د صهیونیسي ظلم او وحشت ملاتړ کوي.** صهیونیستي دولت خپل وحشت د درواغجن او منافق غرب د سترگو پر وړاندې کوي. د بشر حقونو، ښځو حقونو، ماشومانو حقونو او ژوو حقونو ته د غرب ژمنتیا بشپړه افشا شوه چې تول درواغ وايي. سربېره پر دې، یهودي اداره د مسلمانانو ټول‌وژنه

د امریکا په رضایت او تایید کوي؛ په دې کې د امریکا فعال ګډون او ملاتړ ورسره دی؛ د رسنیو له لارې پروپاګند ورته خپروي، مالي او د وسلو مرسته ورسره کوي. ومو لیدل چې امریکا د ۲۰۲۳م کال د ډسمبر په ۸مه په غزه کې د اوربند لپاره د ملګرو ملتونو وړاندیز شوی پرېکړه‌لیک ویټو کړ. امریکا دلته د دوو-دولتونو حللاره غواړي. دا د امریکا ظالمانه پلان دی چې د سپېڅلې خاوره لویه برخه اشغالګرو ته وسپاري او د «فلسطین دولت» په نامه یو بې وسلې او ذلیل او تش په نامه دولت پرېږدي. غربي دولتونه او یهودي اداره په حقیقت کې هغه څه دي چې الله سبحانه و تعالی یې په اړه فرمایي:

**[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى أَوْلِيَاءَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ]** [مائده: ۵۱]

**ژباړه:** «اې مؤمنانو! یهودان او عیسویان خپل ملګري مه نیسئ، ځکه له دوی څخه یې ځینې یو د بل ملګري دي.»

**غزې د مسلمانانو حکام افشا کړل.** سره له دې چې یهودي ادارې روغتونونه او ښوونځي بمبار کړل، د اردن رژیم خپله فضا د مسلمانانو قاتلانو ته ورکړې وه چې امریکا خپل تجهیزات اسرایلو ته ورسوي. متحده عربي اماراتو کښتیو ته د شته ګواښ د له منځه وړلو په موخه د دبۍ او حیفا ترمنځ د یوه ځمکني پل جوړولو ترون لاسلیک کړ چې د سعودي او اردن له خاورو تېرېږي. د مسلمانانو حکام د دې پر ځای چې د نړۍ سمندري، ځمکنۍ او هوايي لارې بندې کړي؛ د نفتو تامین بند کړي او له خپل ټول ځواک څخه کار واخلي چې د خپلو وروڼو او خویندو د وینو تویېدو مخه ونیسي؛ زموږ د قاتلانو مرسته کوي او خپلې لارې په واک کې ورکوي. مصر د رفح پوله تړلې، په داسې حال کې چې پوځ یې د غزې د مسلمانانو د ملاتړ وړتیا لري او غوښتنه یې هم همدا ده. پاکستان او ترکیه د واشنګټن د ګټو لپاره خپل پوځونه د نړۍ هر ګوټ ته استوي؛ خو چې په غزه کې یې اوس سخته اړتیا ده، نو حکام یې مخه نیسي. دغو حکامو د غزې مسلمانان او ټول اسلامي امت د دښمن پر وړاندې په ګونډو کړ، اوس د بل خیانت هڅه کوي او غواړي د امریکا په امر، د دوو-دولتونو حللاره عملي کړي. په داسې حال کې چې الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**[إِنَّمَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ قَاتَلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَأَخْرَجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ وَظَاهَرُوا عَلَى إِخْرَاجِكُمْ أَنْ تَوَلَّوْهُمْ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ]** [ممتحنه: ۹]

**ژباړه:** «له شک پرته الله سبحانه وتعالی تاسو د هغو خلکو له دوستۍ منع کوي چې له تاسو سره د دین لپاره جنګېدلي دي. تاسو یې له خپلو کورونو څخه ایستلي یاست او د تاسو په ایستلو کې یې یو د بل ملاتړ کړی دی. له دوی سره چې څوک دوستي وکړي، همغوی ظالمان دی.»

**غزيې هر څه افشا او په ډاګه کړل او د الله سبحانه و تعالی پر وړاندې یې خپل مسولیت ادا کړ.** اوس په مورږ پورې اړه لري. غزې راته وښودل چې وضعیت څنګه دی او د وړاندې تګ لار کومه ده. د غزې مسلمانان په حقه دي. اسلامي امت یې له خپل دین سره سم مخته ځي. لوی شمېر نامسلمانان د یهودو وحشت او بې عدالتي او له دوی څخه د غربي دولتونو ملاتړ ویني، تاییدوي یې او غبرګون ښیي. یهود داسې قوم نه دی چې پر خپل قول او تړون ودرېږي. غربي دولتونه د مسلمانانو پر وړاندې ښکاره جګړه کې د یهودو ملاتړ کوي. د اسلام او مسلمانانو د دفاع لپاره د مسلمانانو د پوځونو د حرکت پر وړاندې یوازینی خنډ، حکام دي. د وړاندې تګ لپاره یوازې یوه لار ده. امت او پوځونه یې باید د مسلمانانو حکام له مخې لرې کړي. هغه وخت اسلامي امت کولی شي خپل دښمن له خپلو خاورو وشړي او تېښتې ته یې اړ کړي. نو پرېږدئ چې اسلامي امت له خپلو پوځونو وغواړي چې د نبوت پر منهج راشده خلافت د تاسیس لپاره حزب التحریر ته نصرت ورکړي. پرېږدئ چې د غزې ویجاړېدل په ۱۹۲۴ کې د خلافت تر راپرځېدو وروسته زموږ وروستۍ تور او تیاره څپرکی وي.

## د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

## مصعب عمیر – ولایه پاکستان